# د ۲۰۱۱ کال د نړۍ د وګړيو وضعيت

## د اوه ملیارده وګړیو په نړۍ کې خلک او امکانات

د اوه ملیارده وګړیو پړاو به تر ۳۱ اکتوبر پورې سر ته ورسیږي او له لاسته راوړنو، خنډونو او تیروتنو سره به څرګند وي. لکه څنګه چې په اوسط توګه میرمنې د کال ۱۹۲۰ پر پرتله لږ ماشومان زیږوي خو زمونږ شمیر په لوړیدو دی. اوس مهال نړۍ د پخوا په پرتله زیات ځوانان او سپین ګیری لري. په بعضې بې وزله هیوادونو کې د زیږیدنې لوړ تناسب د پرمختګ په لار کې خنډ جوړیږي او بې وزلي دایمي کوي مګر بیا په بعضې شتمن هیوادونو کې د زیږیدنې ټیټ تناسب او د کار بازار ته د لږو کسانو ننوتل د دایمي اقتصادي ودې او د ټولنیز امنیت سیستمونو په مخ کې د خنډ جوړولو تشویشونه راولاړوي. په بعضې پر مختللي هیوادونو کې د مزدورانو کموالي اقتصاي پراختیا ته خطر جوړ کړی او د پر مخ تلونکو هیوادونو هیله من کډوال د لا زیاتو نږدې ملي سرحدونو په لټون کې دي او هغه مهارتونه چې دوی کولی شي وړاندې یې کړي. او هغه مهال چې د بې ساری بې وزلۍ په کمولو کې پرمختګ وشی نو د شتمنو او بې وزلو په مینځ کې واټنونه نږدې هر ځای پراخیږي.د ۲۰۱۱ کال د وګړیو نړیوال وضعیت د اشخاصو له نظره بعضې هغه غلطیانې په ګوته کوي او د دې لپاره چې د خپلو ځانونو، کورنیو، ټولنو او ملت لپاره ښه ژوندونه جوړ کړی هغه خنډونه تشریح کوی چې دوی ورسره مخ دي او بری پرې مومي.

د ځانګړی کیسو له لارې، دغه رپوټ د ژوند په هغو ریښتني چیلنجونو باندې رڼا اچوی چې مونږ ورسره د اوو میلیارده په نړۍ کې مخ یو. دغه له ساحې څخه یو رپوټ دی، له هغو نهو هیوادونو څخه چیرته چې عادي ولس ژوند کوی، ، هغه ملي متخصصین چې دیموګرافیکي تګلارې لولي او هغه پالیسي جوړوونکي کوم چې د سیمه ییزو شرایطو پر اساس پریکړې کوی د خپلو ژوندونو او کار په اړه په مستقیم ډول خبرې کوی: چین، مصر، ایتوپیا، فینلاند، هند ،مکسیکو، موزامبیق، نایجیریا او د مکدونیا پخواني یوګوسلاویایي جمهوریت.

له دغې هیوادونو څخه یو ځای دغه خلک د اوه میلیارده وګړیو په نړۍ کې د ډول ډول بشري تجربو، هیلو او لومړیتوبونو یو ټولګه جوړوی.

په دغه رپوټ کې هر هغه ښودل شوی هیواد خپل ځانګړی د وګړیو تګلارې لری د مثال په توګه ښاری کیدنه، د اوږد ژوند امید او په تیزی سره د کاری عمر نفوس چې نه یوازې لوی چیلنجونه دی مګر ستر فرصتونه دی تر څو دغه خوځښتونه ودروی او ښو خبرونو ته یې وګرځوی.

په دغه هیوادونو کې د اوسیدونکو او کارکوونکو سره په خبرو کې، دغه ډیر وخت نه نیسی چې مالوم کړای شی چې د وګړیو مسالې اوس له نورو سره ناتړلې نه لیدل کیږی. د مثال په توګه د سپین ګیرو عمر د ځوانانو له میلانونو سره تړلی دی.په زیاتره پرمختللی او پرمختلوونکو هیوادونو کې ځوان کارموندوونکی له کلیوالو سیمو څخه ښارونو یا نورو هیوادونو ته کوچیږی چیرته چې د کار زمینې ښې وی او دوی شاته د زیات عمر کسان پریږدی او بعضې وخت پرته له ملاتړ دوی ضرورت لری چې خپل ورځني کارونه پخپله ترسره کړي. په بعضې شتمنو هیوادونو کې لږ شمیر ځوانان د هغه څه په اړه شکمن دی چې په راتلونکی کلونو کې به یې څوک د مشرانو پاملرنه کوی او د مشرانو د خوښی لپاره به قیمت ادا کړی.

له تیرو شپیتو کلونو راسې د نړیوال نفوس د میلانونو په اړه باید ډیر څه ولمانځل شی په ځانګړی توګه د اوسط عمر اټکل چې د ۱۹۵۰ کال په سر کې له ۴۸ کلونو څخه د نوی پیړۍ په لومړی لسو کلونو کې نږدې ۶۸ ته رسیدلی. د ماشومانو مړینه په ۱۹۵۰ لسیزه کې په هرو ۱۰۰۰ زیږیدنو کې له ۱۳۳ څخه له کال ۲۰۰۵ څخه تر ۲۰۱۰ پوری په هرو ۱۰۰۰ زیږیدنو کې تر ۴۶ پورې راټیټه شوې. د مصونیت کمپاینونو د ماشومانو د مرضونو خپرول په ټوله نړۍ کې راټیټ کړی.

پر دې سربیره، د هغو ماشومانو شمیر چې په اټکل سره به یې یوه میرمن وزیږوی له نیم څخه زیات را لویدلی یعنی له ۶,۰ څخه تر ۲,۵ پوری چې یو لامل یې د هیوادونو اقتصادی وده او پرمختګ دی مګر بل لامل یې هغه ګډ ټولنیز او کلتوری قوتونه دی او همدارنګ د میرمنو زده کړو، د عایداتی ګټو فرصتونو او جنسی او د امیندوارۍ روغتیایي پاملرنې په شمول د ماشوم زیږونې د څنډولو نوی طریقو ته پراخ لاسرسۍ دی.

زمونږ د نفوس ریکارډ اندازه له ډیرو اړخونو څخه د بشر لپاره

د بریالیتوب په توګه ګڼلی شي. مګر بیا هم هر چا له دغو لاسته راوړنو یا د ژوندانه د غوره کیفیت څخه ګټه نه ده پورته کړې. د هیوادونو تر مینځ او همدا رنګ په هیوادونو کې دننه ډیر توپیرونه شتون لري. د نارینه وو، ښځینه وو، نجونو او هلکانو تر مینځ د حقوقو او فرصتونو په اړه ډیر توپیرونه شتون لری. د پرمختګ لپاره هغه پلان طرحه کول چې د خرابۍ یا نابرابرۍ پیاوړې کولو پر ځای برابرۍ ته وده ورکړي چې یو ډیر مهم ګام دی.

د ملګری ملتونو د اقتصادی او ټولنیزو چارو څانګې د وګړیو برخه د خپل نړیوال نفوس له نظره څرګندوی : د کال ۲۰۱۰ بیا کتنه (په مې ۲۰۱۱ کې خپور شوی) وړاندوینه کوی چې نړیوال نفوس به په کال ۲۰۵۰ کې تر ۹,۳ میلیارده ورسیږي او د دغه پیړۍ په آخر کې به تر ۱۰ میلیارده ورسیږي. اټکل کیږی چې د دغې شمیر زیاته برخه به له هغو هیوادونو څخه وی چیرته چې د زیږیدنې کچه زیاته ده چې په هغې کې ۳۹ په افریقا، ۹ په آسیا، ۲ په اقیانوسیه او ۴ په لاطینی امریکا کې دي. په ۲۱ مه پیړۍ کې به آسیا د نړۍ پر مخ تر ټولو زیات نفوس ولری، مګر د افریقا نفوس به له دری چنده څخه زیات شی، په کال ۲۰۱۱ کې له یو میلیارد نفوس څخه به په کال ۲۱۰۰ کې تر ۳,۶ میلیاردو پورې ورسیږی. په کال ۲۰۱۱ کې، ۶۰٪ د نړۍ ولس په اسیا کې او ۱۵٪ په افریقا کې ژوند کوی. مګر د افریقا نفوس نژدې ۲,۳٪ هر کال زیاتیږی چې دغه تناسب یې له اسیا څخه له دوه چنده هم زیات دی (۱٪). د آسیا نفوس اوس مهال ۴,۲ میلیارده دی او اټکل کیږی چې د دغې پیړۍ تر نیمایی به تر (۵,۲ میلیارده په ۲۰۵۲ کې) لوړ شی او له دې وروسته به ورو مخ پر کمیدو شی.

په کال ۲۰۱۱ کې د ټولو لویو وچو نفوس په ګډه سره (شمالی او لاطینی امریکا، اروپا او اقیانوسیه) ۱,۷ میلیارده دی او اټکل کیږی چې تر کال ۲۰۶۰ پورې به نژدې دوه میلیاردو ته ورسیږی او بیا به ډیر ورو راټیټیږی او د پیړۍ تر پایه به نژدې دوه میلیارده پاتې شی. د سیمو تر مینځ د اروپا نفوس اټکل شوی چې تر ۲۰۲۵ پورې به ۰,۷۴ میلیاردو ته ورسیږی او له دې وروسته به په راټیټیدو شی.

دغه ریپوټ اوس پلان جوړونه او د خلکو لپاره سمه پانګه اچونه را ښایي ـ تر څو هغوی ته واک ورکړی چې خپلې پریکړې پخپله وکړی چې نه یوازې د دوی لپاره ښه ده بلکې زمونږ د نړیوال ولس لپاره هم ښه ده ـ زمونږ د اوه میلیارده نفوس نړۍ او له هغې اخوا ښیرازه، دوامداره او ګټور کاری قوه چې اقتصادی پرمختګ ګړندی کولی شی، د ځوانانو

| هغه کلونه چې د نړیوال نفوس تر ۱ میلیارده پورې رسیدل ښايي | |
|---|---|
| ۱ میلیارد | ۱۸۰۴ |
| ۲ میلیارد | ۱۹۲۷ |
| ۳ میلیارد | ۱۹۵۹ |
| ۴ میلیارد | ۱۹۷۴ |
| ۵ میلیارد | ۱۹۸۷ |
| ۶ میلیارد | ۱۹۹۹* |
| ۷ میلیارد | ۲۰۱۱ |

نفوس چې د ټولنو او اقتصادونو په ښه کولو کې خپل رول لوبولی شی او د مشرانو هغه نسل کوم چې روغ رمټ دی او پع فعاله توګه د خپلو ټولنو په اقتصادی او ټولنیزو چارو کې ونډه اخلی.

د پرمختیایی نړۍ په زیاتره برخو کې، چیرته چې د نفوس وده له اقتصادی پرمختګ څخه زیاته ده نو هلته د امیندواری روغتیایي پاملرنې لپاره نابرابر شوی ضرورتونه په ځانګړې توګه د وړیا کورنۍ تنظیم زیات اوسی. د ثابت نفوس لاسته راوړنه د دوامداره اقتصادی ودې او پرمختګ لپاره اړین دی. دولتونه چې د بې وزلۍ د لیری کولو لپاره جدی دي همدارنګ باید د خدمتونو، تدارکاتو او د مالوماتو په وړاندې کولو کې هم جدی اوسی چې میرمنې، نارینه او ځوانان ورته د امیندوارۍ د حقونو په اړه ورته اړتیا لری.

مونږ ټول په راتلونکی بشریت کې خپله ونډه لرو. هر شخص، هر دولت، هر تجارت له پخوا څخه زیات پر یو بل تړلی او متکی دی نو ځکه له مونږ څخه هر یو چې اوس څه کوی په راتلونکی کې به یې اهمیت راڅرګندیږی. نن مونږ کولی شو چې نړۍ تغیر او بهتره کړو.

*اولنی کال چې د ملل متحد لخوا د شپږ ملیارد په اړه ولمانځل شو.